**ځلرویشتم پودکاست**

## د ښاري تمدن تاریخ (لومړۍ برخه)

جنبش: ستړي مه شئ، دا د ژوند لارې پودکاستونو نوبتي خپرونه ده چې نن یې موضوع د افغانستان په تاریخي جغرافیه کې د ښاري تمدن تګلوری دی. لرغوني شواهد د دغه تمدن پیل له میلاد نه دمخه بولي، خو لومړني ښارونه څنګه جوړېدل او دا بهیر تر هغو چې موږ ته را ورسېده، له کومو پړاوونو تېر شوی دی. میزبان شما باز هم به روال برنامه‌های گذشته من داود جنبش استم، همه تان خوش کلیپ سیز.

د ژوند لارې دې لړۍ نوښتګر او ویناوال د پخوا په څېر، ولسمشر محمد اشرف غني دی. نو استاده د تل په څېر د اورېدونکو له خوا او د ځان له خوا درناوي او هرکلی.

دکتور غنی: بسم الله الرحمن الرحیم، ډېره مننه تاسو نه او ټولو اورېدونکو نه، تاوده سلامونه مې او احترامات مې ټولو خویندو او ورونو ته، ټولو افغانانو ته، هر چېرې چې دي.

جنبش: ډېره مننه استاد، دا بحث هم پراخ دی وبه ګورو چې کوم ځای ته یې رسولی شوو، نو په دې پیل کې غواړم د تاریخ له پیله یې را پیل کړو، ښار ته ولې اړتیا رامنځته کېږي په مجموع کې، او زموږ دې تمدني حوزه کې یې ودانول په کومو معیارونو اول کې را پیل شوي وو؟

دکتور غني: ښارونه تر ډېره حده پورې له یوې خوا نه تجارت سره تړلي دي او له بلې خوا نه له کرنې او مالدارۍ سره. تجارت سره څکه چې پخوا یو انځور و چې کوچیان یا کوچیاني دولتونه ممکن نه وو، مګر اوس په واضح توګه معلومه شوې چې د آسیا او اروپا په زړه کې چې ډېرتره برخه یې مرکزي آسیا یا مرکزي اروپا-آسیا بلل کېږي، شاید په حدود د زرو کلو یا ډېرتر کوچیانی امپراتوري‌ګانې وې او دوی ډېر پراخ تجارت منځ ته راوړ. او دې سره دویمه مرحله کې د کرنې موجودیت دی، تر لسو زرو کالو یا [دې شاوخوا پورې] راځي. څکه بې له کرنې نه د ښارونو موجودیت امکان نه لري، اما څنګ کې دا مه هېروئ چې تر نولسمې پېړۍ پورې او ځینو ځایونو کې تر شلمې پېړۍ پورې مواصلات عمدتاً د اوښ یا د نورو حیواناتو لکه خرو او اسانو او [نورو په مرسته] کېدل. د اساساتو له نظر نه لومړۍ خبره اوبه دي، ټول عمده ښارونه مو په سیندونو باندې تړلي دي، څکه هم د څښاک اوبه، هم ښارو ته اوبه ورکول، هم د کرنې او هم د مالدارۍ لپاره دا ډېره ضروري ده. دویم، که وګورئ مخصوصاً د برونز د عصر نه پس معادن دي. یوه ډېره برخه زموږ تاریخي ښارونه معادنو سره ډېر واضح ارتباط لري. اما هغه شی چې اکثرو خلکو هېر کړی دی، ورشوګانې دي، څکه وختې چې خاصتاً وګورئ چې سپاره عساکر پیدا شول چې په اسانو باندې ګرځېدل، دا ټوله یوه ډېره پراخه

مالداري ساحه غواړي. بله برخه یې ساختماني مواد دي، ځکه دا ښارونه ټول بدل شول په هغو ښارونو باندې چې ستر دېوالونه یې درلودل او بیا قصرونه، معابد او نور یې درلودل. نو په سلسله که دا وګورئ، دا لکه یو طوق غوندې دی چې د ښارونو ارتباط یو بل سره برابرېږي او یو ښار ته په یوازې توګه نه شئ لیدی. ځینې ستر ښارونه دي چې جوړېږي، اما بې له دې نه چې په یو بل باندې وتړل شي، د دې درک نه شئ کولای.

جنبش: بلې ما داسې ګونګه غوندې وویله چې څو زره کاله له میلاد نه مخکې دغه ښاري تمدن پیلېږي، دقیق یې ویلی شوو چې مثلاً څو زره کاله وړاندې به وي؟

دکتور غني: له بدې مرغې نه بلخ کې چې باید کیندنې وشي یا باقي شمال د افغانستان کې یا سیستان کې، تراوسه پورې هغه کیندنې نه دي شوي چې په دقت باندې دا ځای تعیین کړو؛ مګر په عمومي توګه ۴۰۰۰ کالو ته لیدلی شوو چې د ۴۰۰۰ کالو په شاوخوا کې، ۳۰۰۰ او ۴۰۰۰ کالو په شاوخوا کې زموږ ښاري مدنیت منځ ته راغلی.

جنبش: نو په دې حساب کله چې موږ وایوو چې پنځه زره کلن تاریخ، د ښاري تمدن نه یې پیلوو، انسانان خو به حتماً له پخوا نه وو، په دې به وروسته بحث کې ځای ځای تم شوو. در اینجا میخواهم بپرسم که شما به صورت کل شرایط عمومی را مطرح کردید که روی چی اساس شهرها را می خواستند ایجاد بکنند از روی کدام معیارها. آیا شرایط حداقلی هم وجود داشت که اگر تکمیل نمیشد از ایجاد و بنا کردن شهر صرف نظر میشد؟

دکتور غنی: بلی، نقطه اول آبیاری است، موجودیت آب یک معیار را تعیین میکند. در پهلوی آن، آب ضرورت به انجنیری داشت، چون مدیریت آب در افغانستان سابقه بسیار قدیم دارد، و خوشبختانه آثاری وجود دارد که نشان بدهد که سلسله آبیاری و تنظیم آب هزارها سال سابقه دارد. نقطه دوم آن موجودیت غذاست و غذا را باید با شرایط ترانسپورت ببینیم. از این جهت به صورت عموم ساحه یک دائره ابتدایی ۲۰ کیلومتری، دائره دومی ۴۰ تا ۶۰ کیلومتری، در صورتیکه کوه‌های بزرگ مطرح نباشد. سوم پروتین است که مواد عمده است و در این بخش موجودیت مرتع ها و چراگاههای ما نهایت عمده است. از این جهت اکثریت شهرهای ما چمن‌های بزرگ دور و پیش خود داشتند. و نقطه چهارم آن راه‌های تجارتی است. وقتیکه تجارت بین‌القاره‌یی وجود داشت و در اوج خود بود، شهرهای ما بزرگ میشود، و وقتیکه تجارت ضعیف میشود یا قطع میشود شهرهای ما کوچک میشوند. و از طرف دیگر اهمیت حکومتداری است، چون این شهرها از هم فاصله داشتند، امپراتوری های بزرگ به وجود می‌آید، اما در عین حال سلطنت های کوچک وجود داشته میباشد و نوع ارتباط اینها. آیا نوع روابط حسنه است و صلح آمیز است یا جنگ آمیز است؟ ابعاد مختلف این تاریخ در حال روشن شدن است. در قسمت زبان‌ها اطلاعات ما ضعیف است هنوز هم، چون بدبختانه طرز تاریخ نویسی را در آخر قرن نوزده و قرن بیست به قسمی ساختند در بعضی جاها که عباراتی را استفاده می کردند که با شرایط چند هزار سال پیش مرتبط نیست، اما ضرورت واضح است که ما ببینیم که در یک حوزه بزرگ تمدنی حضور داشتیم که تمدن های مختلف با هم در اختلاط و ارتباط بودند. و شهرهای ما مثل

زیوریست که در یک گلوبند بسیار عظیم با هم ارتباط دارند و نوع این ارتباطات را باید در هر مرحله تاریخی به صورت مشخص بفهمیم.

جنبش: که ان‌شاءالله همین را کار میکنیم، در همینجا کوتاه میخواهم بفهمم که آیا همین مشخصاتی را که شما برای ساختن شهر ذکر کردید، تا پایان به همین شکل ماند یا تغییراتی حتماً در آن پیش آمده، وقتیکه بشر پیشرفت کرده؟

دکتور غنی: تغییرات زیاد آمده، اما فراموش نکنید که اوج ثروت منطقه ییکه ما در آن حضور داریم در قلب آسیا، پیش از حمله چنگیز خان بود و تنها حمله چنگیز خان نبود، در عین عال وبا ییکه آمد به نام وبای سیاه یاد میشود، ساحه بزرگ تمدن اسلامي را بسیار سخت متاثر ساخت. از این جهت قرن چهارده و پانزده را گرفت که دوباره به پا ایستاد شویم، اما بعد از آن تغییر راه‌های تجارتی ما را با فتور...، یک دوره فتور بزرگ مواجه کرد. بنابرین نقطه عظیم تغییر، پس در قرن بیست می آید که راه‌های مواصلاتی و وسایط رفت و آمد تغییر میکند، تشکیل مارکیت ملی بدون وسایل عمده ترانسپورتي غیرممکن بود و آن مارکیت تنها در ختم دهه ۱۹۵۰ و وسط دهه ۱۹۶۰ در حال تحکیم بود که بعد از آ ن مشکلات جدی ما را دوباره با مشکل برابر کرد. از این خاطر در شروع قرن ۲۱، هر شهر افغانستان در حقیقت قمر یک کشور همسایه شده بود، عوض اینکه با شهرهای دیگر افغانستان ارتباط داشته باشد. از این خاطر تاریخ ما همیشه در نوسان بوده، پیشرفت سریع داشتیم در بعض موارد، اما بدبختانه فتور هم دوامدار تکراری بوده.

جنبش: بیا هم که دا د تاریخ برخه کې یوه پوښتنه بله وکړم، بیا به تېر شوو نورو موضوعاتو ته، تاسې وویل چې د ښارجوړونې لپاره ځینې معیارونه وو، اوبه وې مثلاً سیندونه، د استحکام امکانات یې وو، لارې وې، سوداګریز... که دا شیان مهم وو، مثلاً په داسې ځایونو لکه غور کې چې موږ یوه بشپړه امپراتوري په کې درلوده، د ښارونو د جوړولو منطق په څه ولاړ و، غزنی سیمه کې؟

دکتور غني: غور مه هېروئ، غور یوې عمده تجارتي لارې باندې و، ځکه هرات د دوو لویو لارو مرکز و: یو د ورېښمو لاره چې له چین و مرکزي آسیا نه راتله، بله هغه لاره چې تر بغداد و اناتولیا او دې پورې رسېدله، دا لاره له بامیانو او غور نه تېرېدله. یوه لاره بادغیس وه، بله لاره بامیان او غور وو. او دې ساحې کې که وګورئ، یوازې غور نه دی، بامیان هم یو لوی دولت و، مخصوصاً بودایي دوران کې چې وربانديې له چینایي زایرینو نه آثار لرو او د هغه په څنګ کې د دې دواړو لارو په امتداد کې هم د بادغیس خوا، هم د بامیان و غور له خوا عمده کلاګانې دي، عمده قصرونه وو، او ځینې ځایونه دي د مثال په توګه یو ځای دی کروخ د هرات کې «ارمه لیک» نومېږي او «ارمه لیک» په یو غره باندې دی، ووړ غر دی، یو کوتل دی او منځ کې یې چېنې وې چې لوی آثار په کې پراته وو او د انګلستان هئیت څو میاشتې هلته پروت و. دا مه هېروئ چې په اوسط توګه یوه قافله یا کاروانونه، شل کیلومترو نه په ورځ کې ډېرتر نه تلل. یعنې پس له شل کیلومترو نه باید تاسو شپه کړې وای او که په ډېرې چټکۍ تلل په چاپار یې چې ورته ویل چې مغولانو ایجاد کړ او بیا نورو امپراتوریانو دوام ورکړ، شاید ۶۰ کیلومترو ته رسېدلي وای. ښارونه او واړه ښارونه او

کلاگانې او دا... په دې حساب وګورئ چې دوامدار د تجارتي له نظر نه په ارتباط کې وو. وختې چې د موټر سرک راځي او موټر راځي، هغه راشه درشه چې د قافلې نظر نه وه هغه له منځه ځي. نو له دې نظر نه غور په دې لارو باندې پروت و او ارتباط يې درلوده.

جنبش: يعنې غور هم په تجارتي لاره باندې و، نو هغه معيار يې پوره کړی، مننه. اگر من کتابهای جغرافيه مکتب خود را درست به خاطر داشته باشم و شعرای ما اشعار شان که بلخ را بلخ بامی یاد کردند و اعراب، در جغرافيه ما آمده بود که بلخ را ام البلاد – مادر شهرها ميگفتند، به این معنی که مادر باید اول باشد و بعد از آن دیگر شهرها به وجود بیاید. آیا بلخ واقعاً در حوزه تمدني ما افغانها اولین شهر بود یا مادر شهرهای جهان بوده یا خیر؟

دکتور غنی: از نگاه تاریخ اسلامی تفسیر طبری که یکی از اولین کتابهایی است که در دری در دولت سامانی ترجمه شد، بلخ را امالبلاد یاد میکند و منبعش را ابو زید بلخی میگوید. ابو زید بلخی یکی از بزرگترین علمای بغداد بود و در این آواخر توجه خاص به آثارش شده که نه تنها داکتر طب بود بلکه داکتر روحیات بود و کتابی را [در مورد] تداوی روحی هم نوشته کرده، این از آنجا آمده. قسمت دوم که به نام ام البلاد یاد شد از نگاه ثروت آن و بزرگی آن بود. این تنها به این معنی نبود که مادر است بلکه به صورت مقایسوی این را بسیار بزرگ یافتند و قابل تعجب بود. از نگاه مقایسه آن با مصر، با چین، با هند، تمدن هراپه، موهنجودارو و خاصتاً عراق است. ما به کاوش های فنی ضرورت داریم که انءشاالله تعالی روزی پیدا خواهد شد که این به صورت اساسی روشن شود. اما با دانش فعلی که داریم تنها گفته میتوانیم که واقعاً یکی از شهرهای بزرگ آسیای مرکزی و آسیا-اروپا بوده که در ادوار مختلف یادآوری شده، خاصتاً فردوسی در زمان لهراسپ و سلسله او واضح است، که این مرکز بزرگ امپراتوری بود و امپراتوری های دیگری که بعداً ذکر کرده میتوانم، در این حضور داشته، اما با دقت شروع تاریخی آن بدون کاوشهای دقیق معلوم کردن حدس است.

جنبش: شهر را مثلاً در یک نقطه اساس میگذاشتند، يو ښار به يې جوړ کړ، حدود به يې ورته وټاکل، يو ځا مثلاً هر څوک چې يې موسس و، بیا دا څنګه پراخېده؟

دکتور غني: دا ټول ښارونه تر هغه حده پورې چې معلومات راځي په نقشې باندې جوړ شوي دي. يو مثال درکړم چې معلومه شي د دې سابقه. وختې چې خليفه منصور د عباسي د بغداد اساس يې کېښوده، نقشه يې خالد برمکي ورته جوړه کړه. په ځمکې يې نقشه جوړه کړله، تېل يې واچول چې دا وسوځي او بيا يې په خطکشي او دې کې ورته معلومه کړه چې خليفه پوه شي چې دا نقشه څه ده؟ نو دې ټولو ښارونو نقشې درلودې. دېوالونه په ډېره منظمه توګه جوړ شوي وو او بيا منځ د ښارو کې حدود واضح وو. خاصتاً اسلامي دوره کې څلور ضلعې يې درلودې چې څلور عمده سرکونه به وو، چې مرکز کې سره ټولېدل او هغه ته يې چهارسو ويلې. دا نقشه موږ باربار ګورو. اما دا د نفوس په تعداد باندې ارتباط لري. وختې چې ښارونه په ابتدا کې پيلېږي، پراخ دي، يعنې نفوس کم دی، ساحه پراخه ده. دويم په ياد ولرئ

چې د افغانستان ټولو ښارونو باغونه درلودل، هم سلطنتي باغونه يې درلودل يا دولتي باغونه او هم د لويو منصبدارانو، د لويو تاجرانو او مالدارانو لوی باغونه يې درلودل. او دغه ساحه بيا پراخېږي له ښار نه د باندې. يعنې ټولو دورو کې چې وګورئ، د باغو يادونه ده او د باغ کلمه ډېره پراخه ده او د باغ جوړونې ترتيب خاصتاً په آخر کې له بابر سره يې ګورو چې د افغانستان يو سلسله عمده باغونه يې جوړ کړل. مګر په عين حال کې احمدشاه بابا، تېمور شاه، زمان شاه او نورو [هم] جوړ کړي دي. وختې چې نفوس ډېرېږي دا وځي له ښاره د ښار په څنګ کې. له بلې خوا نه د ښارونو يوه سلسله ايجادېږي. که شمال د افغانستان ته وګورئ دا ښارونه په زنځيري توګه يو بل سره ارتباط لري او عمده عامل د دې د پيسو دی. وختې چې پيسې راځي او تجارت توسعه مومي ورسره هم ښارونه ډېرېږي او هم د ښارونو وسعت. حدود يې په دې باندې رسېږي چې خلکو ته څنګه ډوډۍ ورکړي. يو ښار چې پنځوس يا سل زرو نفرو ته رسېږي په ډېرو تاريخي مراحلو کې او ډېر لوی ښار وي، او هغه مرحلې ته څومره رسېدلي دي بايد دقيق هم تاريخي ابعادو ته وګورو او هم جغرافيايي او د نفوس د ساتنې لپاره.

جنبش: موږ په پوهنتون کې يو استاد درلود، هندی و (شري واستاوا) نومېده، د لرغونپوهنې درس يې را کاوه، که څه هم موږ ژورناليزم لوسته، خو په هر سمستر کې موږ د لرغونپوهنې يو مضمون درلوده، دهغه يوه خبره که مې دقيقه اوس را په زړه شي دا وه چې افغانستان د تمدنونو يو کلکسيون دی، د هرې دورې يوه بېلګه په کې ليدلی شوو. غوښتل مې دلته همدې بحث کې تم شوو چې موږ تر هغو چې دغه معاصر پړاو ته راځو حتماً له بېلابېلو دورو نه تېر شوي يو چې اورېدونکو ته توضيح کړو کومې دورې وې؟ او څه تاثير يې پرېښی دی په ښارونو باندې؟

دوکتور غني: بالکل، ستاسو استاد سمه خبره وايي. د همدې لپاره وه  چې ما د آسيا د څلولارې کلمه ژوندۍ کړله، ځکه چې افغانستان يو محدود تمدن باندې د تاريخ په پړاو کې نه دی تړل شوی. همېشه موږ د راشې درشې، د خلکو، د ولسونو د ارتباطونو، د تجارت، اديانو، مذاهبو، د مختلفو ولسونو، ژبو او دې مرکز وو. نو له هغه نظر نه لومړۍ برخه شايد اوستايي دوره وي چې د اوستا کتاب منځ ته راغی او سرودونه او دا راغلل، دې باندې مختلف بحثونه دي چې دا بدخشان کې وو يا نورو ځايو کې، مګر هغه شی چې اوس معلوم شوی کوچياني امپراتوري ګانې دي، چې مخکې له دې نه چې زردشتي دين راغی او زردشتي تمدن منځ ته راغی، کوم کوچياني تمدنونه وو او دې برخه کې څومره زموږ ښاري تمدن، خاصتاً بلخ کې او پس له هغه نه سيستان کې، هرات کې او نورو ځايو کې او د کابل د سيند په حوزې کې، د هلمند سيند په حوزې کې دا... اساساً بايد د افغانستان هر پنځه د سيندونو حوزو ته وګورئ او په دې اساس باندې خاصې نقشې بايد جوړې شي، چې کومه د سيند حوزه په کومه تمدني مرحله کې مرکز و يا يو د سلسلې د دې ځايو نه و. نو اوله دوره زردشتي ده چې دې باندې هم مختلف روايتونه دي، چې آيا زردشت په بلخ کې ووژل شو د حملې په اساس باندې له لهراسپ سره يوځای؛ اما هغه شی چې معلوم دی او وربانديې موافقت دی چې زردشتي دين يو واحد خدای باندې عقيده درلوده او لمونځونه يې کول او لمونځونه يې هم پنځه وخته په ورځې کې کول او د دې دين حدود واضح نه دي، اما آثار يې واضح دي او په دوو دورو کې: په اولې دورې کې چې کياني دوره ده او

بلخ باندې مرکزيت لري او دويم پس د سکندر له حملې نه دا ځي د ساساني امپراتورۍ رسمي مذهب ګرځي. زموږ دويمه دوره يوناني دومره ده او په يوناني دورې کې خاصتاً د آی خانم ښار په تخار کې يو عظيم مرکز دی او له بلې خوا نه سکندر يو ښار په قندهار کې هم جوړ کړی و، هرات کې يې هم ادعا شته او خاصتاً بګرام او کاپيسا کې او شايد د کابل د کلا اساس وي. اما هغه شی چې واضح دی څو سوه کلو لپاره موږ يو يوناني- باختري تمدن درلود، پس له هغه نه د کوشان تمدن، يفتلي تمدن مو دی. دا ټول په بودايي دورې پورې تړل کيږي اوله مرحه کې، او کنشکا خاصتاً له يوې خوا نه او آشوکا له بلې خوا نه، او د کنشکا مرکز بغلان و پروان و کاپيسا و. آشوکا معلومدار له هند نه راغی او تر قندهاره پورې ورسېده. د مختلفو اديانو په شمول د يهودانو چې باميانو او غور کې يې ځينې کتابونه پيدا شوي دي چې مطلق نادر دي او ورباندې په امريکې کې کار شوی. مسيحي مذهب يې هم په هرات کې او نورو ځايونو کې موجوديت درلود، اما په اساسي توګه پس له هغه نه د اسلام مبين دی چې زموږ د اسلامي تمدن دوره پيلوي او په هغې کې بيا نورو مختلفو طبقه بندي ګانو باندې راځو.

جنبش: چهار کتگوری تقیسم کنیم، که بحث ما آسانتر شود: تمدن زردشتي، تمدن یونان و باختري، تمدن بودایي و بعد از آن تمدن اسلامي. چرا زردشتیان ما – شما اشاره های داشتید که در بلخ مرکزیت داشتند، چرا بلخ را به عنوان مرکز خود تعیین کردند؟

دکتور غنی: قسمیکه پیشتر خدمت تان عرض کردم، وضاحت نداریم راجع به این که به صورت دقیق زردشت چی وقت زندگی کرد. هزار سال تا دوهزار سال مابین تخمین فرق وجود دارد، اما چیزیکه وضاحت دارد، بلخ قبل از حمله سکندر عظمتش، نوع ارتباطش، و مرکزیتش در ارتباط با راه ابریشم واضح است و قابل شک نیست. در اینجا متاسفانه تبعیض هایی از نگاه تاریخ نویس ها وجود داشته، همچنین از نگاه بعض باستان شناس ها، که مدنیت را از آسیای مرکزي جدا کردند، زیادتر این را به یک مفهوم ایران –که ایران در فردوسی مفهوم پارس را ندارد – پارس جداست، اما این بحثی است که من نمی خواهم داخل آن شوم، چون نهایت پر از اضطراب است. نقطه کلیدی نوع ارتباط هاست، عوض اینکه سر جدایي صحبت کنیم باید سر نوع ارتباطات صحبت شود. چرا این تمدن به افول رفت، دو عامل عمده [دارد]: از یک طرف حمله سکندر بود که از نگاه نظامی امپراتوري هخامنشی را ختم کرد و اساس امپراتوری یونان - باختری در اینجا بوجود میآید. اما دوم دین بودایی است، که به سرعت انکشاف پیدا کرد و خاصتاً در این بخش، تمدن گندهارا که ساحه عمده خیبر پښتونخوا و حوزه دریای کابل، و این میرسد تا قندهار؛ فرامینی که از آشوکا به سنگ حک شده وجود دارد و به احتمال قوي یکی از مراکز بزرگ در قندهار در پنجوایی بود، نه در شهر فعلی قندهار و بعد از این اوج آنرا در قرن شش میلادی در بامیان می بینیم و مجسمه های بزرگ بامیان، اما درعین حال معبد سجاوند است، عینک است در لوگر، غزنی است، پکتیکا، پکتیا، تمام این ساحه ها و خاصتاً پروان و کاپیسا و اینها، که بغلان و کاپیسا دو مرکز بزرگ این میشود. دومره دوم...، چون هنوز تثبیت واضح وجود ندارد که در دوره ساسانی ها کدام ولایت ها دین زردشتی را دوباره قبول کرده بودند یا نکرده بودند. چون وقتیکه به دوره اسلامی میرسیم

بعد از سقوط دوره ساسانی، طور مثال به صورت واضح میدانیم که خاندان برمکی در این وقت از مذهب بودایی به اسلام مشرف شده، نه از مذهب زردشتی. این ابعادی است که باید در آینده روشن شود. و یکی از خصوصیات مذهب بودایی این بود که هر تعمیر مذهبی را که اینها می ساختند، که به نام ستوپه یاد میشود، در عین حال یک مرکز تجارتی بود، چون ستوپه‌ها تجارها را قرض میدادند. مذهب بودایی در چین، تا کوریا، تا تایلند، تا سریلانکا و بالآخره تا اندونیزیا به وسیله تاجرها انکشاف داده شد، نه به زور شمشیر و اینها. بناءً ابعاد فکری و ابعاد تجارتی با هم می آیند و یک سلسله خاص ایجاد میشود که مشابهت با سلسله مذهب عیسوی در ایجاد کاهن ها و سلسله های خاص، شبکه های خاص مذهبی در مذهب عیسوی در اروپا، و بعداً طرق صوفیه ما در دین مبین اسلام است که مشابهت های ساختاری دارد. نه این که یکی زیر تاثیر دیگری بوده باشد، اما از نگاه مشابهت های فکری، در اینجا مشابهت های مقایسوی وجود دارد که کمک می کند ما درک کنیم چرا مذهب بودایی به سرعت انکشاف کرد.

جنبش: بلخ د زردشتیانو د مرکز په توگه موږه پېژنو معمولاً، د عربو نه د ام‌البلاد نوم ورته پاتې دی، دا یوازینی ښار باید شمال کې نه وي، نور ښارونه مو درلودل مشهور دي؟

دکتور غني: هو بالکل. شمال ته حتی عربانو د زرو ښارو لقب ورکړ او دا ښارونه پراخ وو او که وگورئ دا بېرته په سیندونو باندې ارتباط لري. تخار، بغلان، قندز، سمنگان له یوې خوا نه او له بلې خوا نه جوزجان، فاریاب، سرپل دا ټول اوبه لري. نور شرایط مې چې وویل دا ټول آماده دي تر بدخشانه پورې تر فیض آباده پورې. دا ځینې معلومات هم شته چې چینایي زایرین چې د بودایي مذهب د زده‌کړې لپاره راتلل، د واخان له لارې نه راغلل، اما عمده لاره کلفت وه. ترمز یو عمده ځای و چې اوس حیرتان ورباندې تړلی، اما د آمو سیند نه باید تېر شوي وای. شمال یوه وسیع سلسله ده او اتلسمې او نولسمې پېړۍ کې هم که وگورئ شمال کې متحرک بازارونه وو. دا ځینې ځایونه چې نومونه یې د مثال په توگه چهارشنبه یا دوشنبه یا دا دي، دا د بازار ورځې وې، او دا داسې عیار شوي وو چې ځای به ثابت و، مگر تجاران به له یو ښار نه بل ښار ته تلل. او د شمالي سرحد د تعیین په دوران کې انگریزانو له یو کال نه زیاتر تېر کړل چې دا سرحد وټاکي، هرې برخې نه چې دوی تېرېږي د لویو ښارونو آثار دي او په عین ترتیب باندې که سیستان ته وگورو، د سیستان تمدن یو ډېر اوچت تمدن و. ډېره جالبه ده، وختې چې عربان راغلل، د هلمند د سیند په طول کې سلها قصرونه او دا وو او دې د غزنوي دوران کې هم دوام وکړ. نو مختلفو حدودو ته باید وگورئ،ځکه سیستان پس د امیر تیمور له دوران نه حاشیې ته لاړ او یوازې خلک قندهار او هرات ته گوري. اما سیستان کې هم فراه، هم نیمروز خاص وو او رستم په ټولې شهنامې کې په نامه د رستم د زابلي یادیږي. زابل یو نوم و، نیمروز یې بل نوم و او دا وسیع ولایتونه وو او تاریخ د سیستان په ډېر واضح توگه د دې تشریحات ورکوي. د هغه نظر نه زما نتیجه گیری بیرته چې معاصرې برخې ته لاړ شوو، د زرو ښارو ایجادول په افغانستان کې، که موږ بېرته خپل تمدني حیثیت د آسیا د زړه په حیث لاس ته راوړو، نه یوازې امکان پذیره ده، ډېر په آسانه توگه او په ډېره منظمه توگه ان‌شاءالله تعالی په سر رسېدلی شي.

جنبش: تشکر سوال من در مورد حوزه تمدنی سیستان بود، به طور مختصر پاسخ یافت ولی بر گردم دوباره به شمال افغانستان به مسئله هزار شهر، که گفتید اعراب یادآوری کرده بود و شاید همین قدر شهرها در آن منطقه وجود داشته و اگر میخواهیم عظمت تاریخي خود را احیاء کنیم، افغانستان میتواند دوباره دارای هزار شهر شود. در آن زمانهای قدیم رابطه بین شهرها چگونه برقرار میشد، مثلاً چه چیزی اینها را با هم پیوند میداد؟

دکتور غنی: سوال بسیار مهم است. یک نوع ارتباط ازدواج ها بوده. ازدواج های بین شهری در ساحه تمدنی ما تاریخ بسیار وسیع دارد. نوع دوم آن ارتباطات تجاری بود. تجارهای ما همیشه در حرکت بودند، مخصوصاً در ایجاد بانکداری و ارتباط پولی هر شهر مراکز خاص خود را داشت و سرا های بسیار بزرگ در تمام این شهرها وجود داشت. قسمت سوم مناسبات دینی است. هر مذهب عمده یی را که ببینید، متون مورد بحث بود، یا به صورت شفاهی که قسمت زیاد آن پس در اوستا و اینها بدل شده، یا به صورت انتقاد متون که دوره بودایی خاصتاً در این مشخص است. در دوره یونان-باختری ما، در آی خانم طور مثال یک اکادمی واضح مثل اکادمی یونان واری وجود داشت که ارسطو و افلاطون وغیره در آن تدریس میشد، و کتیبه هایی که وجود دارند، هم به زبان یونانی است هم به زبان خروشتی، و همچنین در قندهار کتیبه آشوکا حتی به زبان یونانی بود. زبان یکی از نقاط دیگری است که در این مطرح میشود و در قسمت زبان نهایت دقیق باشیم که انسان زبان را یاد می گیرد و در عین حال زبان را فراموش میکند. زبان را باید به قوم و هویت قومی بسته نکنید. یک نوع ارتباطی است، هویت همیشه در تغییر بوده و نوع ارتباطات آن. قسمت دیگر ارتباطات اینها سیاسي است. به این معنی که آیا امپراتوری بوده؟ به مفهوم شهنشاه یعنی شاه شاهان و مفهوم آن به صورت واضح این است که شاهان کوچک را قبول میکند. آیا این از یک خاندان می آیند یا اینکه هر کدام آنها جداست و نوع استقلال نسبی دارند. بُعد دیگر آن نظامی است. آیا شهرهای کوچک در تحت سلطه نظامی شهر بزرگ یا پایتخت است یا پایتخت های متعدد وجود دارد. یک نقطه را از نگاه پایتخت های متعدد ببینید، هر امپراتوریکه، هر دولتی که تشکیل میشد و تعداد عسکرش زیاد میشد، خاصتاً در شرایط زمستان، سوال در این بود – یا تابستان، که غذای کافی برای اینها وجود دارد یا نی. و آسانترین راه این بود که عساکر را انتقال کنید به جاییکه غذاست، نه این که غذا را نتقال بدهید به جاییکه عسکر است. بنابرین اکثر این امپراتوری ها پایتخت های متعدد داشتند، مثلی که کنشکا از یک طرف در بغلان میبود و از طرف دیگر در بگرام و کاپیسا. و از نگاه فرهنگی این است که دوباره به نقطه ارتباط میآییم که اوضاع تمدنی است. طور مثال از بلخ ارتباطات عظیم تجارتی با چین وجود داشت. لعل بدخشان مخصوصاً، معلومدار لاجورد بدخشان، ۵۰۰۰ سال پیش در کتیبه ها و در سرودهای بابل، شهرهای بزرگ دیگری بین النهرین و مصر رسیده. قلعه عبدالله یا برج عبدلله در پروان، در بگرام فعلي، حفریاتی که در آن انجام شد، یک اتاق کشف شد که در آن یک خزینه بود و می فهمید که ارتباطاتش تا کجا بود؟ تا کوریا. سوال دیگری که در این موجود است که عساکر از کجا بود؟ به چی رقم ترتیب میشدند؟ بنابرین یک سلسله نیست، طُرق ارتباطی وسیع است و نظر به این تعلق دارد که اینها جمع میشدند و وسیله ارتباطات عمیق تر میشدند یا بعضی دفعه ها بحران می

آمد و یکی از نقاط کلیدی بحران معلومدار سر اینست که جانشینی همیشه بحران ایجاد کرده. و بدبختانه فردوسی را هم که ببینید، بارها نه تنها سر رقابت بین برادر ها صحبت کرده، روابط پدر و پسر ... یک چیز دوامدار است که مشکلات را ایجاد کرده.

جنبش: دغه روابط چې تاسې یاد کړل چی ان تر کوریا او چین، دې خوا تر بین النهرینه پورې چې لویه تمدنی سیمه ده، دا روابط حتماً یعنی د ټینګېدو یوه مهمه وسیله یې باید د ورېښمو لار وي. د ورېښمو لارې باندې که لږ وغږېږو، ولې دغه نوم ورته وټاکل شو؟ دې کې خو مثلاً یاقوت به تلل، زر به تلل، نور به تلل، ولې ورته د ورېښمو لار وویل شوه؟

دکتور غني: د ورېښمو لارې نوم یو الماني تاریخپوه کېښوده، خلکو دې ته ورېښم نه ویلې، لار یې ویلې.

جنبش: یعنې دا لرغونې نوم نه دی، وروسته ایښودل شوی.

دکتور غنی: دا لرغونی نوم نه دی، دا په نولسمې پېړۍ کې راغی او ځکه چې واقعاً له یوې خوا د ورېښمو تجارت یو لوی تجارت و، اما له بلې خوا نور ابعاد یې تر شعاع لاندې راوړل. لاجورد لاره هم ورته ایښودلی شوو، د رنګ لاره ورته ویلی شوو... رنګونو ته که وګورئ، اوس سړي ته ډېر ساده ښکاري، اما تر نولسمې پېړۍ پورې چې کیمیا علم دې ته ورسېد چې رنګ په مصنوعي توګه ایجاد کړي، طبیعي رنګونه یو لوی تجارت و. د مثال په توګه، آبی رنګ - نیلي دا ټول له هنده راتله. یا ولې جګري رنګ ډېر کمیابه و؟ ځکه لوی مرکز د دې لبنان و او د روم امپراتورانو او دې ته چې وګورئ چې دوی ټول دا اغوندي. هره برخه د دې یو عظیم تجارت و، ما دې باندې کار کړی و، لیکنې مې دي، بدبختانه د کتاب مسوده مې کابل کې ده. ورېښم په دې راغی، یو استاد دی انډیانا پوهنتون کې بېکوېټ نومېږي – کریستوفر بېکوېټ. دغه سړي په دې تېرې لسیزې کې یو کتاب لیکلی په نامه د ورېښمو د لارې امپراتورۍګانې. او د دې خاصیت عجیب دی ځکه چې پنځه یا لسو ژبو باندې په ډېر واضح توګه حاکمیت لري او اصلي متون په چینایي کې، په عربي کې په ترکي کې، په نورو ژبو کې لوستی شي. لرغونپېژندنه واقعاً ډېر په سخت بدلون کې ده او مثبته توګه بدلون کې ده،اکثر تبعیضات چې مخکې وو، په لرې کېدو کې دي. دا ښیي چې کوچیاني امپراتورۍ مخصوصاً د ساکا په دوره کې –چې زمونږ سهاک کلمه شاید د دې میراث وي، سلها کاله وجود درلود. او دوی په حرکت کې وو، خاص پایتختونه یې نه درلودل، اما ډېره مرکزي منطقه د اروپا-آسیا کې وو، او دوی د ورېښمو لاره ایجاد کړله، او ورېښم چین کې تولیدېدل، اما چین څه ته ضرورت درلود؟ چین اسانو ته ضرورت درلود او په اس باندې چې راشئ دغه یو ډېر عظیم تجارت و. آقچه د مثال په توګه افغانستان کې، زرها کاله د اسانو د تجارت مرکز و. هند کې هم اسونه ډېر کمیابه وو، یوازې انګریزان په نولسمه پېړۍ کې په دې بریالي شول چې اسان هلته وروزي. د برونز په دورې کې چې قبرونه یې پاتې دي، لکه د مثال په توګه د شبرغان طلا تپې قبرونه، ګورئ چې دا خلک څومره زېوارتو سره دفن کېدل. هغه بله برخه یې چې له منځه تللې، د دوی کالي د ورېښمو وو. او دا بیا ورسېدل تر روم او دې پورې او د روم

امپراتوری کې واردات د وربښمو یوه ډېره عمده برخه وه چې پس له هغه نه بیا د وربښمو تولید په مدیترانه کې، لبنان او دې کې وینئ. اما بله خوا یې دا ده چې د وربښمو لاره یو وار نه ده منځ ته راغلې، د تاریخ په طول کې هم ډېره پراخه شوې ده او هم کمه شوې. کنشکا د مثال په توګه، د دې لپاره چې ځان له اوسني ایران نه خلاص کړي، لاره یې د سندهـ له لارې نه خلاصه کړه سمندر ته. زموږ تاریخ کې موږ دې امپراتوریانو ته یوازې د نظامي په برخه کتلي دي، اما نه د تجارتي په برخې کې. نو د وربښمو لار یوه له لارو نه ده او یو بل لیکوال دی چې فرانکوپن نومېږي، هغه هم په یوه بله طریقه راغلی چې د وربښم لارې، نه لاره. یعنې یوه لاره نه وه، متعددې لارې دي او که په دې ترتیب راشئ، ډېرې واضح نقشې بېرته جوړېدلی شي چې دې لارو کې څه په حرکت کې وو او دغه زما الهام و د دې لپاره چې کوربڼوورونه جوړ کړم. څکه دې لارو ته باید وګورئ، یوه لاره نه ده، ډېرې لارې افغانستان کې ختمېدې. او یو مثال و زموږ اسلامي دورې کې چې ټولې لارې بغداد ته ځي، نیمې لارې د دنیا بلخ و بګرام ته ځي.

جنبش: استاده مننه، هیله ده په دا اوس وخت کې که نیمې نه وي، یوه لویه برخه د سوداګریزو لارو په وطن بیا را ماتې شي چې خلک د دې پرځای چې په جګړو او وژنو فکر وکړي، د ځان په هوسا کولو، د وطن په رغولو او ودانولو باندې فکر وکړي. بېرته تاریخ ته، د زردشتي تمدن دوره د سکندر په برید سره پای ته رسېږي، که یو ځل نه وي ورو ورو پای ته ورسېده، دا بهیر څنګه را پیل شو، څنګه وشو دا کار؟

دکتور غني: شمال د افغانستان کې ځای یې ایراني تمدن ونیوه چې بالآخره بدلېږي په یوناني - باختري تمدن کې. اوله دوره کې د سکندر له مرګ نه پس فعلنی افغانستان او خاصتاً شمال د افغانستان سوریې سره ارتباط پیدا کوي. او دا مه هېروئ چې څو سوو کالو کې، پس له سکندر نه اوسني ایران ساحې کې ملوک الطوایفي راغله، اما اوسني افغانستان کې بالعکس یوناني دولت راغی څو سوو کالو لپاره او یو لوی تمدن راغی او یونانیانو بودایی مذهب ومانه. دغې دورې کې دا چې موږ خاصتاً آی خانم ته باید وګورو، آی خانم له هغو ښارو نه دی – مخکې مې چې تاسې ته عرض وکړ چې تخار کې یوه لویه تپه کې و او دا مرحوم اعلیحضرت ظاهرشاه چې ښکار ته تّه، کشف کړ چې معبد او د اکاډیمی او د دې آثار یې ولیدل دا لوی ستونونه وو او بیا پس ته په قندز او بغلان او دې کې هم را ووتل. دغه ښار د ۶۰۰۰ خلکو ستدیوم درلود، اکاډیمي یې بې‌حده لویه وه. انجنیری له نظر نه ټول د اوبو تنظیم د ښار منځ کې. دا په زړه پورې ده څکه دا یوازینی ښار دی تراوسه چې زه پوهېږم –څکه عینک باندې کار روان و، نه پوهېږم نتیجې ته رسېدلی که نه، چې موږ یې ۳ بُعده په مصنوعي توګه لیدلی شوو. لکه چې یو موزیم ته لاړ شوو بېرته ورته کتنه کولای شوو.

جنبش: اوس یې څومره برخې پاتې دي د دغه ښار؟

دکتور غني: آثار پاتې دي، کیندنې یې فرانسویانو په اول کې وکړلې له بدې مرغې دوام یې ونه کړ او له بلې خوا نه بګرام کې یو انګریز و چې د اردو د انګرېز نه تښتېدلی و او ډېر کاله یې دوست محمد خان سره تېر کړل او پس له

لومړي جنګ نه بېرته لاړ، مسان نومېږي. مسان لسها زره سکې له بګرام نه ټولې کړې چې اوس د برټیش موزیم یا موزیم د انګلستان سلطې لاندې دي او همدارنګه ځینې برخه زموږ طلاوې چې تجارانو پس ته د طلا تپې په ارتباط باندې ویستل هندوستان ته، هلته ونیول شول او بیا هم انګلستان ته وړل شوي دي. طلا تپه یوه برخه د دې ده چې آثار یې له ښې مرغې په نمایش باندې ایښودل شوي ټولې نړۍ کې او بې‌ساري مجموعه ده. اما له بدې مرغې نه اکثره برخه د طلا تپې پس د داود خان له نسکورېدو نه چور شوه. او عظیم بیداد چې موږ باندې شوی په دا څلوېښت کالو کې زموږ د لرغونو آ ثارو پېټول دي، له بودایي دورې نه نیولې نورو دورو کې...

جنبش: شورویانو یوړل چې واضح یې وکړو؟

دکتور غني: نولسمې پېړۍ نه پس دا شروع شوله، څکه چې لومړۍ برخه کې زموږ چارواکو کومه علاقه نه درلودله. د مثال په توګه، د خیبر درې نه تر کابله، غزني، قندهاره پورې او دې خوا ته تر بامیانو او بیا سمنګانو او بلخ دې کې زموږ د بودایي دورې آثار – شیوه کیو یا دې ټولو کې وګورئ، په عظیمه توګه [وړل شوي]. کابل کې ۴۰ بودایي ستوپې موجودې وې، په قدر یې نه پوهېدو، ځینو خلکو یووړل، پس له هغه نه امان الله خان فرانسویانو سره قرارداد وکړ او یوازې دوی ته یې اجازه ورکړه، نو په منظمه توګه راغلل. اما د داود خان د حکومت له سقوط نه دا چور شروع شو او دوام یې درلود او لا هم له بدې مرغې نه دوام لري او په دې قدر باندې خلک نه پوهېږي. له ښې مرغې نه اوس بین‌المللي اصول راغلي دي چې بېرته یو ملت د خپلو تاریخي لرغونو آثارو د بیا غوښتلو تقاضا کولای شي او یوه برخه د دوی موږ د خصوصي موزیمونو د امریکې نه بېرته په لاس کې کړل، اما اوس بیا هم د دوی ادعا دا ده چې افغانستان کې امنیتي شرایط نشته او خپلو لرغونو آثارو باندې علاقه نه لري له هغه نظر نه قاچاقبرانو ته بېرته زمینه برابره شوې.

جنبش: سکندر از خود چی را به جا گذاشته در مسئله تمدن شهری. وقتیکه به هند می رفت در جریان راه آیا آثار شهری از آنها داریم؟

دکتور غنی: تاریخ سکندر چند صد سال بعد از مرگش نوشته شده از طرف آرین، یک نویسنده رومی است. ادعا اینست که مثلی که سکندر [اساس] سکندریه را گذاشت در مصر، سکندریه های مختلف را ایجاد کرد. هرات وجود داشت قبل از آنکه سکندر بیاید. حاکم هرات هم مقابله کرد بارها، بنابرین که سکندر اساس هرات را گذاشته باشد اگر شهر موازی با هرات ایجاد کرده باشد قابل غور است، اما غیر از آن [خود هرات را ایجاد نکرده است]. نام قندهار را یک قسمت زیاد مورخین به سکندر مبدل می کنند، یک سکندریه در قندهار وجود داشت و از این جهت به احتمال زیاد که پنجوایی یک مرکز عمده شهر تمدنی بوده باشد یا شهر فعلی قندهار. در قسمت بگرام اساس به مراتب واضح تر معلوم میشود، اما خاصتاً بگرام از عهد کنشکا است و همچنین کاپیسا. و اینجا فراموش نکنید که راهی را که در دوره یونان-باختری ما تعقیب میکردیم برای هند، از راه تگاب و نجراب بود، نه از راه کابل. کلمه بگرام یک تعبیر

اینست که شهر بود و بگرام های مختلف وجود داشته. و باید دیده شود، از ساحه صلاحیت من بالاتر است، در زبان‌شناسی من سالهاست که تحقیق نکرده ام. اما در شمال افغانستان قسمیکه پیشتر خدمت تان عرض کردم، چیز عمده ییکه ماند آی خانم بود. در قندز هم ستون ها و اینهایی وجود داشت، اما تحقیقات وسیعی که باید صورت بگیرد تا به حال صورت نگرفته. و همچنین بالاحصار بلخ به هزارها سال [قبل]میرود و چون تا به دقت هر مرحله دیده نشود، تمام آثار را دیده نمی توانیم. اما چیزیکه واضح است، سکندر از راه پنجشیر رفت و قبل از اینکه سکندر از این راه بیاید وضاحت وجود دارد که یک قسمت یونانی ها در دره پنجشیر وجود داشتند، از کوتل خاواک تیر شد و در اندراب هم آثاری بود که تا سالهای پیش وجود داشت که چند تعمیر برای حفظ راه ساخته بود. سکندر عادتش بود که اساس شهرها را میگذاشت، اما اینکه کدام شهر را در دوران حیات خود در افغانستان و آسیای مرکزی به صورت تکمیلی دیده باشد، به مراتب کمتر است، چون در هیچ جای اینقدر به صورت دوامدر بود و باش نداشت، اما حرکتش از راه کنر به باجور و اینها تثبیت شده، چون از راه کنر و باجور به طرف اباسین و اتک و در حال حرکت به پنجاب بود که بالآخره عسکرهایش طغیان کردند و پس رفتند. و راه برگشتش از راه بلوچستان بود که صدمات بسیار زیاد دید و نزدیک خودش و تمام عساکرش تلف شده بود.

جنبش: سره له دې چې کېدای شي هماغسې چې تاسې وویل سکندر دغسې یو څه چې موږ په دقت سره وویلای شوو، ښاري برخه کې نه دی پریښی، اما له ده نه وروسته دا کوم تمدن چې یونانیانو ادامه ورکړه او په افغانستان کې یې واکمني وکړله او تر موږ را ورسېده، یو جلا مکتب دی. هم د زیوراتو او د سینگار شیانو په برخه کې او هم د معمارۍ په برخه کې. دا دوره – لنډه له تېرې دورې سره او راتلونکې دورې سره چې بودایي تمدن دی څنگه مقایسه کولای شوو، له هنري او معماري پلوه؟

دکتور غنی: ډېره خاصه دوره ده او بل دا ده چې دا له بودایي دورې نه بیلولی نه شئ، څکه یونان - باختري پاچایانو بودایي مذهب ومانه. مننډر یو پاچا و چې کابل کې یې یو مرکز و او بل مرکز یې اوسنی راولپنډۍ او دې کې و. مننډر نن په سریلانکا کې لوی ترین شخصیت دی، څکه ده سره مکالمې شوې دي چې د یو عادل پاچا څوابونو باندې یې انعکاس ورکړی. له بلې خوا نه دلته مه هېروئ چې زموږ د بودایي دورې تمدن د مجسمو په جوړولو کې یوې عظیمې برخې ته ورسېده. دلته دا هم باید واضح کړم چې دا بُتان نه وو، بودایي مذهب کې د بُتانو پرستش نه دی،دوی یوه مفکوره د روښنایۍ لري چې یو بودا، دوی فکر کوي چې په آسمان کې دی او بل هغه فزیکي بودا دی او له بلې خوا نه د دوی عقاید په دې کې دي چې هر مذهبي متخصص د دوی باید ددې کوشش وکړي چې په بودا باندې [بدل شي]، بودایي مرحلې کې ورسېږي، یعنې بودا تنها یو فرد نه دی یوه مرحله ده. او دغه مجسمې چې جوړې شولې چې عظیم ترینه نمونه یې معلومدار بامیان ده او له بلې خوا نه په سوات کې. سوات کې یوه سلسله آثار گورئ چې بې‌ساري دي چې کونړ، باجوړ او سوات او دې سره ارتباط لري، دغه دوره واقعاً یوه بې ساري دوره ده. او له بلې خوا نه وختې چې دې ته گورئ خاصتاً د لندن په موزیم کې دا ډېر په آسانه توگه درته ښکاره کېږي څکه چې دوی د ټولې نړۍ

آثار یې راوړي. د بودا څېره بدلېږي، آثار یې یوناني کېږي او ډېرتر بدلېږي، نو دا یوه بې‌ساري دوره ده او په عین حال کې ښاري تمدن له ایجادولو نه یوازې بګرام او دا نه دي، ټیکسلا ته هم باید وګورو. اولین بودایي معبد شاید ټیکسلا کې جوړ شوی وي چې له هغه نه بېرته هندوستان خوا ته لاړ او د ټیکسلا تمدن د ګندهارا تمدن، دا هغه تمدن دی چې دا لویه ساحه د کابل د سیند د حوزې له یوې خوا نه، او له بلې خوا نه شمال د افغانستان او دا برابروي. او دلته دا مه هېروئ چې دغه تمدن و چې زمینه د علومو د انکشاف یې راوړه، د مثال په توګه د الجبر او دا. او اوسني ننګرهار کې یو لوی فلسفي مکتب و چې همدا پروفیسور بېکوېټ په واضح توګه تشریح کړې چې بېرته دا یونان ته څنګه ورسېد او څه نوع ارتباطات وو. دې برخې کې له بدې مرغې نه اروپاییانو یونان په نولسمې او شلمې پېړۍ کې بدل کړ د اروپا په مهد باندې، د دې په ځای چې وګوري چې یوه لویه تمدني حوزه وه او دوی اول یې په حاشیې کې وو، بیا یې په متن کې راغلل بیا یې بیا په حاشیې کې لاړل. نو د هغه په لیکنې باندې له بدې مرغې نه د نړیوال تمدن په حیث باندې تنها په یوویشتمې پېړۍ کې ده چې واقعاً موږ له اروپایي تعصبونو نه وتلي یوو او اوس کولای شوو چې دې ته بېرته وګورو. دا دوره ډېره مهمه ده د فکري له نظر نه، وختې چې ارسطو په تخار کې درس ورکول کېده، نو فکر وکړئ چې بلخ کې دا څومره مهم و، بیا په ټیکسلا کې، په بګرام کې او نورو ځایو کې. کنشکا لوی ترین کنفرانس د بودایي مذهب په باره کې په کشمیر کې ونیوه. نو د دې دورې تاثیر په مختلفو برخو کې دی، ځکه چې دا زموږ کوشاني دوره ده. او زموږ بله برخه د ارتباطاتو تر منګولیا او چین پورې ګورئ، ځکه بار بار دا موجونه راغلي دي. ترکي موج آخري موج د دې و. د فردوسي د تاثیر لاندې دا همیشه لیدل شوي دي د ایران او توران، اما ضرور ده چې یو نوی نظر په دې باندې وشي او د دې دورې اهمیت زموږ بیا اسلامي دورې ته او بل اوسنۍ دورې ته د یوې تمدني څلورلارې په حیث باندې په واضح توګه وګورو.

جنبش: ډېره مننه استاده، وخت ته په کتو به فکر کوم چې د ګندهارا په ډېر پیاوړي او ډېر شتمن فرهنګ او تمدن او دغه راز ټیکسلا، باجوړ، خیبر، هډه، مندیګک او دې باندې که وخت پاتې شو، دې باندې هم لږ لږ تم شوو په راتلونکې خپرونه کې، له بده مرغه اوس به وخت نه وي. نو راتلونکې خپرونه به له بودایي تمدن نه را پیل کړو همداسې به یې پسې وغځوو، اسلامي برخې ته، دا خپرونه به چې د افغانستان د تمدني تاریخ او د ښارونو د تمدن تاریخ و په دې ځای به یې دا لومړۍ برخه پای ته ورسوو، د خپل ګران مېلمه ولسمشر محمد اشرف غني نه او تاسې نه، له ټولو نه مننه کوم، تر بلې خپرونې مو په خدای سپارم.

دکتور غني: خدای مو ساته، تل دې وي افغانستان، یشه سین افغانستان، زنده باد افغانستان.